د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون

د علمي څېړنو معاونیت

د علمي څېړنو آمریت

# د کال د غوره څېړونکي، مؤلف او ژباړونکي د ټاکلو تګلاره

کال:

۱۴۰۴ هـ ل

# د کال د غوره څېړونکي، مؤلف او ژباړونکي د ټاکلو معیارونه

## سریزه

څېړنې، تألیفات او ژباړې د یو علمي نهاد تر ټولو اساسي دندې او جاریه صدقه ګڼل کېږي، دا برخه ډېر زیار او هڅو ته اړتیا لري، زیات وخت ورباندې لګول کېږي او پایله یې هم ګټوره او د پرمختګ وسیله وي. لازمه ده چې د پوهنتون په کچه غوره څېړونکو او لیکوالانو ته چې په دې برخه کې یې زیاتې ستړیاوې ګاللې دي او د هېواد د پرمختګ هیلو یې دغه نیک کار ته هڅولي دي، تقدیر کړل شي.

د علمي څېړنو معاونیت او تر چتر لاندې یې د علمي څېړنو آمریت غواړي چې د ښکاره او واضح میکانیزم په رڼا کې د غوره څېړونکو، مؤلفینو او ژباړونکو ستاینه د پخوا په شان ترسره کړي، تر څو نوره انرژي هم تر لاسه او وروستیو لاغوره خدمتونو ته وهڅول شي.

په دې برخه کې لاندې معیارونه ټاکل شوي او د تطبیق وړ دي.

### ۱. د کال د غوره څېړونکي د ټاکلو معیارونه

د هرې پوهنځۍ د څېړنو کمېټه دنده لري چې په رسمي توګه د ټولو څانګو له استادانو څخه د هغوی د نشرشوو مقالو اړوند معلومات ترلاسه، په مستند ډول مقالې او لېستونه له ځان سره ولري او په لاندې ډول یې نمرې محاسبه کړي.

- یوازې هغه مقالې د محاسبې وړ دي چې په همدې معین کال کې نشر شوې وي.
- هرې مقالې ته به ۱۰۰ نمرې ورکول کېږي.
- که چېرته مقاله نړیواله وي، نو بیا به یادې نمرې په ۲ کې ضرب کړل شي.
- هغه نړیوالې مقالې چې ژورنال یې په Scopus کې انډېکس وي، په لاندې توګه نمرې ورسره نورې هم جمعه کېږي:
  - د $Q_1$ مقالې لپاره ۸۰ نمرې
  - د $Q_2$ مقالې لپاره ۶۰ نمرې
  - د $Q_3$ مقالې لپاره ۴۰ نمرې
  - د $Q_4$ مقالې لپاره ۲۰ نمرې
- په هره مقاله کې ترسره شوې نمرې به د لیکوال په نمبر باندې تقسیمېږي، د مثال په ډول د اول لیکوال لپاره پوره نمرې، د دوهم لپاره همدغه نمرې په ۲ ، د دریم لیکوال لپاره په ۳ او همداسې نور تقسېمېږي.

- د ټولو مقالو څخه ترلاسه شوې نمرې به جمع او د لیکوال لپاره محاسبه کېږي.
- هره پوهنځۍ به د لوړو نمرو ترلاسه کوونکي ۳-۵ څېړونکي د څېړنو معاونیت ته د ټولو شواهدو سره د ستاینې په موخه رالېږي.
- د څېړنو معاونیت به د ټولو پوهنځیو څخه ترلاسه شوي اسناد د علمي څېړنو او نشراتو په بورډ کې ارزوي او د کال غوره څېړونکي به د پوهنځیو او پوهنتون په کچه معرفي کوي.

## ۲. د کال د غوره مؤلف د ټاکلو معیارونه

د غوره مؤلف د ټاکلو لپاره هم د پوهنځۍ د څېړنو کمېټه دنده لري تر څو د خپلو استادانو هغه تألیفات ترلاسه کړي، چې په همدې معین کال کې ترسره شوي او نشر شوي دي.

د غوره مؤلف د ټاکلو لپاره لاندې ټکي او معیارونه لازم ګڼل کېږي:

- غیر ترفیعي تألیف ته به د ترفیعي په نسبت لوړ ارزښت ورکول کېږي.
- دا هم لازمه ده چې د کتاب د پاڼو شمېر هم د ارزښت په کټګورۍ کې شامل کړل شي.
- د غیر ترفېعي تألیف هرې صفحې ته به ۱.۵ نمره ورکول کېږي.
- د ترفیعي اثر هرې صفحې ته به ۰.۵ نمرې ورکړل شي.
- ټولې نمرې به جمع کېږي او د لوړو نمرو درلودونکي ۱-۳ مؤلفین به د وروستیو کړنو په موخه د شواهدو سره یو ځای د علمي څېړنو معاونیت ته رالېږل کېږي.
- د علمي څېړنو معاونیت به د علمي څېړنو او نشراتو په بورډ کې تر ارزونې وروسته د پوهنځۍ او پوهنتون په کچه غوره مؤلفین د معیارونو مطابق تعینوي او ستاینه به یې کېږي.

## ۳. د کال د غوره ژباړونکي د ټاکلو معیارونه

د کال غوره ژباړونکي لپاره هم معیارونه کټ مټ د غوره مؤلف په شان دي، چې په پورته برخه کې لیکل شوي دي، د څېړنو فرعي کمېټې دنده لري چې د شواهدو په رڼا کې یې ټاکنه ترسره او د بعدي کړنو په موخه د علمي څېړنو معاونیت ته راولېږي.

## د ستاینې پروګرام څرنګوالی

د پورتنیو څرګندو معیارونو په پایله کې د کال غوره څېړونکي، مؤلفین او ژباړونکي به د علمي څېړنو معاونیت لخوا د ریاست مقام په ملاتړ او ټولو معاونیتونو په ګډون او همکارۍ سره د یوې شانداره غونډې په ترڅ کې ستایل کېږي، د دوی د ستاینې لپاره به د موجوده او ممکنه ټولو لارو هڅه کېږي چې د ستاینلیک تر څنګ یې په ښه توګه قدرداني وشي او د امکان ترحده ورته مادي جوایز هم ورکړل شي.

په درنښت

**د علمي څېړنو آمر**

**پوهنمل کرامت الله فاضل**

د کال د غوره څېړونکي، مؤلف او ژباړونکي معیارونه د علمي څېړنو او نشراتو بورډ په (۱۳) ګڼه، ۲۵ / ۱۰ /۱۴۰۴ نېټه پروتوکول کې ثبت او تائید دي

په درنښت

**پوهنمل دوکتور شریف الله شریفي**

د بورډ مشر او د علمي څېړنو مرستیال